# فیضانِ امیرِ مُعاویہ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ

24-FEBRUARY-2022



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# فیضانِ امیر مُعاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو**! چې کله جُمات ته داخل شئ، چې یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي.
یاد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمنې او روژه ماتې کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شریف فضیلت

د آخري نبـي، رسُولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوک چې په ټوله ورځ کښې په ما باندې یو زر (**1000**) دُرُود شریف اولولي، هغه به تر هٰغه وخته پورې نه مري، تر څو پورې چې په جنَّت کښې خپل مقام اونه ویني.[1]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1…الترغیب والترهیب، کتاب: الذکر والدعا، صفحه: 565، حدیث: 22۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: " **اَفۡضَلُ الۡعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ** " رښتينے نيت بهترين عبادت دے.(1)

**اے عاشقانِ رسول!** نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي.

❁ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوكړئ او ❁نور دا نيتونه اوكړئ چې نظر به ښكته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❁ چې څومره كيدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د **اَلتَّحِيَّات** په شكل كښې كښينم ❁ د علم زده كولو د پاره به پورا بيان اورم ❁ د بيان په دوران كښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❁ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❁ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو كوشش كووم.

## نعتِ مصطفٰی ﷺ مه پټوئ...!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د **الله پاك** د نبـي حضرت يعقوب عَلَيۡهِ السَّلَام اولاد ته بنـي اسرائيل وائي، په سيپاره: 1 سورۂ بقره: آيت: 42 كښې **الله پاك** بنـي اسرائيلو ته ارشاد فرمائي:

---

[1]...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

وَ لَا تَلۡبِسُوا الۡحَقَّ بِالۡبَاطِلِ وَ تَكۡتُمُوا الۡحَقَّ وَ اَنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۴۲﴾ (پاره:1،سورۀ بَقَره:42)

[مفهوم] ترجمۀ کَنزُالعِرفان: او حق سره باطل مه ګډوئ او د پوهیدلو باوجود حق مه پټوئ.

په دې آیت کښې بنـي اسرائیل د دوو خبرو نه منع کړے شوي دي: **(1)** حق د باطل سره مه ګډوئ **(2)** حق مه پټوئ.

په آیتِ کریمه کښې دوه ځله لفظِ **حق** استعمال شوے دے، د دې **حق** نه څه مراد دے؟ مُفَسِّرین د د ې په وضاحت کښې فرمائي: **نَعۡتُ مُحَمَّدٍ فِي التَّوۡرَاةِ** یعني دلته د **حق** نه مراد د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه نعتِ پاك دے کوم چې **اللّٰه پاك** په تورات شریف کښې نازل کړے وو، لِهٰذا بنـي اسرائیلو ته حکم اوکړے شو چې: **اے په تورات باندې د اِیمان ساتلو دعوٰی لرونکو!** مونږه په تورات شریف کښې د خپل محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوصاف او فضائل بیان کړي دي، د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتِ پاك مو پکښې بیان کړے دے، اوس په تاسو لازم دي چې مه خو تاسو زمونږ د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نعتونو کښې د خپل ځان له طرفه باطل ګډ کړئ او نه زمونږ د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه پټ کړئ! چې څومره کیدے شي زمونږ د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه ډیر ډیر بیانوئ...!

سُبۡحٰنَ اللّٰه! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې نه اندازه اولګوئ چې څومره خوش نصیبه دي هغه خلق کوم چې د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوصاف ډیر ډیر

بيانوي، د زړه په مينه نعتونه لولي، اللّٰه پاك دِ مونږ ټولو ته نعتِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ريښتينے محبت رانصيب کړي.

نعت سُنتا رہوں، نعت کہتا رہوں | آنکھ پُر نَم رہے، دِل مچلتا رہے
مجھ نامِ مُحَمَّد زباں پر رہے | ذِکر ہوتا رہے، سانس چلتی رہے

اے عاشِقانِ رسول! اللّٰه پاك چې په تورات شريف کښې د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کوم اوصاف بيان کړي دي، بنـي اسرائيلو ته حکم اوکړے شو چې دا هيڅ کله مه پټوئ بلکه ډير ډير ئې بيانوئ. راځئ چې په تورات شريف کښې د خوږ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نازل شوے نعتِ پاك واورو:

## په تورات شريف کښې يو نعتِ مصطفٰی (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)

د اِمام حاکم په مُسْتَدْرَك کښې حديثِ پاك دے: د مسلمانانو څلورم خليفه، اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت علـي، مشکل کُشا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې: يو ځل د بنـي اسرائيلو نه يو کس د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر شو، اسلام ئې قبول کړو او هغه په تورات شريف کښې ليکلي شوي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو څو اوصاف هم بيان کړل، هغه اووئيل: اے محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په تورات شريف کښې ستاسو نعت شريف داسې دے: مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ مَوْلِدُهٗ بِمَكَّةَ وَ مُهَاجَرُهٗ بِطَيْبَةَ وَ مُلْكُهٗ

بِالشَّام مُحَمَّد بِن عبدُالله (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) مکه مکرمه به د هغوئي د پیدائش مقام وي، طیبه به د هغوئي مقامِ هجرت وي او ملكِ شام به د هغوئی د بادشاهت مقام وي.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** اوس لږ په تَوَجُّه سره د دې نعتِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مطلب باندې ځان پوهه کوو، په تورات شریف کښې بیان شوي دي: **(1)** **مَوْلِدُهٗ بِمَكَّةَ** یعني د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مقامِ پیدائش مکه مکرمه دے، ښه واضحه خبره ده، حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مکه مکرَّمه کښې پیدا شو **(2)** **مُهَاجَرُهٗ بِطَيْبَةَ** طیبه به د هغوئي مقام هجرت وي. دا هم ټولو ته معلوم دي چې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مَکَّے مُکَرَّمے نه هجرت اوفرمائیلو او مدینه طیبه ته ئې تشریف یوړلو **(3)** په دریم نمبر ئې اوفرمائیل: **وَ مُلْكُهٗ بِالشَّام** یعني مُلكِ شام به د هغوئي د بادشاهت مقام وي.

دا خبره په ظاهره د حیرانتیا ده ځکه چې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند مبارک کښې په ملكِ شام باندې د کافرو حکومت وو او تر آخره پورې هلته د کافرانو حکومت قائم وو، یعني داسې خو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټول کائنات مالك و مختار دے خو په ظاهري اعتبار سره په 63 کاله مبارك ژوند کښې کله هم ملكِ شام د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مقامِ حکومت نه وو جوړ شوے، بیا په تورات شریف کښې دا څنګه فرمائیلے شوي دي چې **وَمُلْكُهٗ بِالشَّام** (مُلكِ شام به د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بادشاهت مقام وي)؟

---

[1] ...مُسْتَدرَک، کتاب: آیات رسول الله، جلد:3، صفحه:526، حدیث:4300۔

راځئ چې د دې سُوال د جواب لټولو د پاره په تاريخ باندې غور اوکړو: ❁ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند کښې په مدينه مُنَوَّره کښې اوسيدلو ❁ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس حضرت ابُوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د مسلمانانو خليفه مقرر شو، هغه وخت هم دارُالخلافه مدينه مُنَوَّره وه ❁ بيا حضرت عُمَرفاروق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دويم خليفه جوړ شو، بيا هم دارُالخلافه مدينه مُنَوَّره وه ❁ بيا حضرت عُثمان غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دريم خليفه جوړ شو، بيا هم دارُالخلافه مدينه مُنَوَّره وه ❁ بيا حضرت علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ څلورم خليفه جوړ شو، هغوئي کوفه دارُالخلافه جوړه کړه ❁ د دغه وخته پورې د خلافتِ راشده ديرش کاله پوره شو، بيا د هغې نه پس په اسلام کښې بادشاهت شروع شو او د اسلام په تاريخ کښې د ټولو نه وړومبے بادشاه حضرت اَمير مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ جوړ شو. ❁ حضرت اَمير مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ وړومبے صحابي دے چې هغوئي ملکِ شام خپله دارُالخلافه جوړ کړو، د دې نه مخکښې د اسلام په تاريخ کښې بل يو وخت هم ملکِ شام دارُالحکومَت نه وو جوړ شوے.

معلومه شوه چې هغه په تورات شريف کښې چې کوم ارشاد شوے وو: وَ مُلْكُهٗ بِالشَّام يعني د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بادشاهت مقام به مُلکِ شام وي، هغه د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت د حضرت اَمير مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د بادشاهت بيان دے، چې هغه په تورات شريف کښې د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اوصافو کښې د نعتِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په طور بيان شوے دے.

سُبۡحٰنَ اللّٰه! سُبۡحٰنَ اللّٰه! اے عاشِقانِ صحابه و اهلِ بيت! د حضرت اَمير مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د شان و شوکت نه قربان شم! اللّٰه پاك د هغوئي حکومت د خپل خوږ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حکومت قرار کړے دے.

وه معاویہ پہلے عادِل بادشاہ اسلام کے | پیشگوئی اس شہی کی کر گئے احمد رسول
مانتے ہیں اُن کی شانوں کو ہمارے سب بزرگ | اُن کی عظمت کی ہیں قائِل سب سَلیمانہ عُقول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اِيمان نه ډك مدني ګلونه

اے عاشِقانِ رسول! د د ې پوره تفصيل نه مونږ ته درې اِيمان تازه کوونکي مدني ګلونه حاصل شو.

## د صحابهٔ کرامو کمالات د مصطفٰی کمالات دي

**(1)** د صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان د کمالاتو ذِکر صرف د هغوئي د کمالاتو ذِکر نه دے بلکه د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت هم دے. اوګورئ! حضرت اَمير مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ صحابي دے، اللّٰه پاك په تورات شريف کښې د هغوئي د بادشاهئ ذِکر فرمائيلے دے خو څنګه؟ آيا د هغوئي ذِکر ئې کړے دے؟ نه، نه، اللّٰه پاك د خپل محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وصف بيان کړے دے او د هغه پاك وصف آئينه دار حضرت اَمير مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ جوړ شو. معلومه شوه چې د صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان شان بيانول صرف د صحابهٔ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوان شان نه دے بلکه نعتِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم دے ❀ چې کله مونږه د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ شان بيانوو ❀ د

حضرت فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہ عَنۡهُ شان بیانوو ❁ د حضرت عُثمانِ غنـي رَضِیَ اللہ عَنۡهُ شان بیانوو ❁ د حضرت مولا علـي رَضِیَ اللہ عَنۡهُ شان بیانوو ❁ د حضرت اَمیرِ مُعاویه رَضِیَ اللہ عَنۡهُ شان بیانوو ❁ د هر یو صحابـي رَضِیَ اللہ عَنۡهُ شان بیانوو نو دا د صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان منقبت دے او د دې سره سره نعتِ مصطفٰی صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم دے ځکه چې ټولو صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان ته کوم شان میلاؤ شوے دے، کومې مرتبے چې ورته نصیب شوي دي، دا هر څه ورته د خوږ آقا صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسیله نصیب شوي دي.

## حضرت اَمیر مُعاویه رَضِیَ اللہ عَنۡهُ فَنَا فِـی الرَّسُول دے

(2) دویمه خبره دا معلومه شوه چې حضرت اَمیرِ مُعاویه رَضِیَ اللہ عَنۡهُ د فَنَا فِـی الرَّسول په اوچته مرتبه فائز وو، په ظاهره ملکِ شام دارُالخلافه حضرت اَمیرِ مُعاویه رَضِیَ اللہ عَنۡهُ جوړ کړو، په ظاهره بادشاه هم حضرت اَمیرِ مُعاویه رَضِیَ اللہ عَنۡهُ وو، په تخت باندې حضرت اَمیرِ مُعاویه رَضِیَ اللہ عَنۡهُ تشریف فرما وو خو **اللّٰه** پاك فرمائي: وَ مُلْکُهٗ بِالشَّام یعني دا بادشاهت، دا سلطنت چې د دې امیر په ظاهره حضرت اَمیرِ مُعاویه رَضِیَ اللہ عَنۡهُ دے خو دا بادشاهت په اصل کښې د حضرت اَمیرِ مُعاویه رَضِیَ اللہ عَنۡهُ نه دے بلکه دا بادشاهت د خوږ خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے. دا داسې ده لکه څنګه چې د غزوهٔ بدر په موقع کافرانو طرف ته شګې حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ور غوزار کړې وې خو **اللّٰه** پاك اوفرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَمَا رَمَيۡتَ اِذۡ رَمَيۡتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰى ۚ (پارہ:9،سورۂ انفال:17) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او اے حبیبه! چې کله تاسو خاوره ورغوزار کړه نو تاسو نه وه غوزار کړې بلکه الله غوزار کړي وه. |

سُبۡحٰنَ اللّٰه! دا د محبت اوچته درجه ده...! سلطنت به حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ قائموي او ربّ فرمائي چې دا سلطنت د اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په ذريعه زما د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے.

| | |
|---|---|
| وہ جس سے روٹھ جائیں تو رسول اُس سے روٹھ جائیں | نبی سے اس طرح کی ہے قرابتِ معاویہ |
| خُدا کے فَضۡل سے ملی، انہیں وہ عظمتِ گِراں | کوئی نہ تول پائے گا جلالتِ معاویہ |

❁ ❁ ❁ ❁

## د ذِکرِ اَمِیر مُعاویه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د قرآن نه ثبوت

**(3)** دريمه خبره دا معلومه شوه چې الله پاك په تورات شريف كښې د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت بيان كړے دے، په هغې كښې د اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د سلطنت ذِکر شوے وو او الله پاك په قرآنِ كريم كښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَتَكۡتُمُوا الۡحَقَّ وَاَنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۴۲﴾ (پارہ:1،سورۂ بَقَرہ:42) | [مفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د پوهيدلو باوجود حق مه پټوئ. |

يعني مونږ چې د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كوم نعتونه په تورات شريف كښې بيان كړي دي، هغه مه پټوئ! هغه عام كړئ...!

اوس لږ غور اوکړئ! چې کله مونږه په تورات شریف کښې لیکلے شوے نعتِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیانوو، په ډیر خوند ئې وایو: [یعني دا وایُو] وَمُلۡکُهٗ بِالشَّام یعني زمونږ د آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بادشاهت مقام ملكِ شام وو نو اووائې دا د چا ذِکر کیږي؟ د چا د بادشاهت ذِکر کیږي؟ دا د چا د سلطنت خبرې کیږي؟ آو! آو! دا د حضرت اَمیرِ مُعاویه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ د سلطنت ذِکر کیږي. سُبۡحٰنَ اللّٰه! نو بیا راځئ چې په شریکه نعرے اولګوو:

| | | | |
|---|---|---|---|
| خائِفِ کبریا | حضرت معاویه | عاشقِ مصطفٰے | حضرت معاویه |
| خُوب رُو خوش ادا | حضرت معاویه | خُوش نما خُوش لِقا | حضرت معاویه |
| مخلص و باوَفا ! | حضرت معاویه | باعَمَل بے ریا | حضرت معاویه |
| جنّتی بے شُبہ ! | حضرت معاویه | باخُدا باصفا ! | حضرت معاویه |

## صحابهٔ کرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان د اِیمان معیار دي

اے عاشِقانِ صحابه و اهلِ بیت! صحابهٔ کرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان خو هغه دي چې الله پاك د هغوئې اِیمان معیار ګرځولے دے، اوګورئ الله پاک ارشاد فرمائي:

فَاِنۡ اٰمَنُوۡا بِمِثۡلِ مَاۤ اٰمَنۡتُمۡ بِهٖ فَقَدِ اهۡتَدَوۡا ۚ (پاره:1،سورهٔ بَقَرَه:137)

[مفهوم] ترجمهٔ کَنزُالایمان: بیا که هغوئې هُم داسې اِیمان راوړي څنګه چې تاسو ایمان راوړے دے نو بیا خو هغوئې هدایت اوموندو.

په تفسیرِ نعیمي کښې د دې آیت لاندې لیك دي: یعني اے صحابه! د قیامته پورې چې څوک هُم ستاسو په شان اِیمان راوړي، یعني ما (یعنې الله پاك)، زما رسولان، زما

كتابونه داسې اومني څنګه چې تاسو منلي دي، نو بيا هغوئي په هدايت دي او كه هر څه مني خو ستاسو په شان ئې نه مني نو هغوئي ګمراه دي، اے صحابه! تاسو د ټولو پيريانو او انسانانو د ايمان معيار ئې.[1]

اَللّٰهُ اَكْبَرْ! غور اوكړئ! صحابهٔ كرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان زمونږ د اِيمان معيار دي، چې د هغوئي په ليدلو، د هغوئي د سيرت په لوستلو، چې د هغوئي د احوال او انداز د معلوميدلو په ذريعه مونږ له خپل اِيمان مضبوطول دي، نو آيا د هغوئي ذِكرِ خير به نه كيږي؟ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ.

اللّٰه پاك دِ مونږ ټول د بےعقلئ نه محفوظه اوساتي. صحابهٔ كرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان خو د انبيائے كرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام نه پس افضل ترين مخلوق دے، د هغوئي ذِكرِ خير به هم كيږي، د هغوئي په نوم به جماتونه هم جوړيږي، د هغوئي [د عُرس او پيدائش] ورځې به هم مناويږي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د هغوئي نعرے به هم لګي. تر نن ساعته پورې نه د صحابهٔ كرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان ذِكرِ خير بند شوے دے، او نه به تر قيامته پورې بنديږي.

هر صحابيِ نبي! جنتي جنتي | ټولې صحابياتې هُم! جنّتي جنّتي
خلور ياران د نبي! جنّتي جنّتي | حضرت صِدّيق هُم! جنّتي جنّتي
او عمر فاروق هُم! جنّتي جنّتي | عثمانِ غني! جنّتي جنّتي
فاطمه او علي! جنّتي جنّتي | حَسَن او حُسَين هُم! جنّتي جنّتي
والدين د نبي! جنّتي جنّتي | هره زوجهٔ نبي! جنّتي جنّتي
حضرتِ معاويه! جنّتي جنّتي | او ابوسُفيان هُم! جنّتي جنّتي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ...تفسير نعيمى، پاره:1، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:127، جلد:1، صفحه:775 بتغير قليل۔

## د حضرت اَمِیر مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ مختصر تعارُف

اے عاشِقانِ رسول! ❀ حضرت اَمِیرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اَوّل مُلُوكِ اسلام (يعني په اسلامي تاريخ کښې د ټولو نه وړومبے بادشاه) دے ❀ د مَکّے مُکَرَّمے د مشهور سردار ابُوسُفيان رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ځوئ دے ❀ د هغوئي نوم: مُعاويه ❀ کنيت: ابُو عبدُ الرَّحمٰن او ❀ ناصِرُ الدِّيْن (يعني د دِين مددګار)، ناصِرُ الْحَقّ (يعني د حق مددګار) د هغوئي القاب دي ❀ حضرت اَمِیرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اِعلانِ نَبُوَّت نه پينځه کاله مخکښې په مکه مکرمه کښې پيدا شوے وو ❀ د هغوئي قد مبارك اوچت [يعني اوګږد] وو ❀ سپين رنګ او ښکلے ښائسته وو ❀ شخصيت ئې رعب دار وو ❀ په سر او ږيره مبارکه به ئې نکريزه لګوله ❀ ډير حِلم والا، بُرد بار، باوقار، مالدار، په خلقو کښې سردار، کرم کوونکے او انصاف قائموونکے وو ❀ علامه حُسَين بِن محمد ديار بَکري رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ رُعب و دبدبے والا، دُور انديش، بهادر، سخي او بُردبار بادشاه وو ❀ حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د صُلح حديبيه په ورځ يعني 6 هجرئ کښې اسلام قبول کړے وو.[1]

## جبريل عَلَیۡہِ السَّلَام سلام اوکړو

د خوږ آقا، مکي مدَني مُصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډير قابِلِ اعتماد صحابۂ کرام عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوَان کومو ته به چې حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قرآنِ کريم د ليکلو ذِمه واري ورکوله ، په هغوئي کښې حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هم

---

[1] ...فيضانِ امیرِ مُعَاوِیَه، صفحه:25171615ملتقطاً۔

وو، د حضرت عبدُالله بِن عبَّاس رَضِیَ اللہُ عَنْہُما نه روايت دے چې يوه ورځ حضرت جبرائيل عَلَيْہِ السَّلام د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! مُعاويه ته زما سلام اووايه، هغوئي د کتابُ الله (يعني قُرآنِ کريم) او د وحـي اَمِين دے.[1]

## د ټولو مسلمانانو ماما جان

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! جَنَّتـي صحابي حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته يو شرف دا هم حاصل دے چې هغوئي د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يوې محترمې بي بي يعني د مسلمانانو د مور حضرت اُمِّ حَبِيبه رَضِیَ اللہُ عَنْہا سکه ورور دے. په دې وجه عُلمائے کرام حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ته خَالُ الْمُؤْمِنِيْن (يعني د مسلمانانو ماما جان) وائي.[2]

## الله و رسول د مُعاوِيه سره محبَّت کوي

په اِبنِ عساکِر کښې دي: يوه ورځ خوږ آقا، محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن حضرت اُمِّ حَبِيبَه رَضِیَ اللہُ عَنْہا خوا ته تشريف راوړو، هغه وخت حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هم هلته موجود وو او د هغوئي خوږه خور يعني اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن حضرت اُمِّ حَبِيبَه رَضِیَ اللہُ عَنْہا د هغوئي سر کښېنزولو، د خور او ورور دا د محبت نه ډك انداز ئې چې اوليدو نو د الله پاك آخري نبـي، مُحَمَّدِ عربـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے اُمِّ

---

1 ...معجم الاوسط، جلد:3، صفحه:73، حديث:3902۔

2 ...الشريعة الآجرى، باب:ذكر مصاہرۃ النبى، صفحه:2448، حديث:1930۔

حَبِيبَه! آيا ته د مُعاوِيه سره محبت کوې؟ عرض ئې اوکړو: دا زما وږور دے، ولے به مې ورسره محبت نه وي؟ د **اللّٰه** پاك حبيب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **اللّٰه و رسول هم د مُعاوِيه سره محبَّت کوي.**[1]

د حضرت ابُودرداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه مروي يو بل روايت کښې دي چې خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے اُمِّ حَبِيبَه! د مُعاوِيه سره محبت کوه! بےشکه زه د مُعاوِيه سره محبت کووم او زه د هغه کس سره هم محبت کووم څوک چې د مُعاوِيه سره محبت کوي، جبرائيل هُم مُعاويه سره محبت کوي، ميکائيل هُم مُعاويه سره محبت کوي او اے اُمِّ حَبِيبَه! د جبرائيل او ميکائيل عَلَيْهِمَا السَّلام د محبت نه زيات **اللّٰه** پاك **هم د ده سره محبت کوي.**[2]

## درې ځله د جَنَّت زيرے

د حضرت عبدُاللّٰه بِن عمر رَضِیَ اللہُ عَنْہُما نه روايت دے چې خوږ نبـي، رَسُولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اوس به ستاسو خوا ته يو جَنَّتـي کس راشي. هغه ساعت حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ حاضر شو، په دويمه ورځ ئې بيا ارشاد اوفرمائيلو: اوس به ستاسو خوا ته يو جَنَّتـي کس راشي. په هغه ورځ هم حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ حاضر شو، په دريمه ورځ ئې بيا ارشاد اوفرمائيلو: اوس به ستاسو خوا ته يو جَنَّتـي کس راشي. (سُبْحٰنَ اللّٰه!) په دريمه ورځ هم حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ حاضر شو.[3]

---

1 ...ابن عساكر، جلد:59، صفحه:89۔
2 ...ابن عساكر، جلد:59، صفحه:89۔
3 ...مسند الفردوس، جلد:5، صفحه:482، حديث:8830۔

## مُعاوِيه! زه ستا نه يم، ته زما نه ئې

په يو روايت کښې دي: حضرت عبدُالله بِن عمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما فرمائي چې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته اوفرمائيل: **مُعاوِيه! زه ستا نه يم، ته زما نه ئې**، بيا خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپلې دوه ګوتې مبارکې يو ځائے کړې او اوئې فرمائيل: د جَنَّت په دروازه به ته زما سره داسې ئې.[1]

## اَميرِ مُعاوِيه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هادي او مَهدي دے

په ترمِذي شريف کښې دي: حضرت عبدُالرَّحمٰن بِن ابُو عمير رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي چې خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په حق کښې داسې دُعا اوکړه: **اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِياً وَاهْدِ بِهٖ** اے **الله** پاکه! مُعاوِيه هادِي (يعني نورو ته هدايت ورکولو والا) جوړ کړې، او هدايت يافته ئې هم جوړ کړې او د دوئې په ذريعه خلقو ته هدايت عطا کړې.[2]

## د دُعائے مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّم وَضَاحت

**اے عاشِقانِ رسول!** په دې اِيمان افروز دُعائے مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د ځان پوهه کولو ضرورت دے. د ټولو نه اوَّل خو دا خبره ياده ساتئ چې زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **مُسْتَجَابُ الدَّعْوات** دے يعني د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُعاګانې قبليږي

---

1 ...مسند الفردوس، جلد:5، صفحه:393، حديث:8530۔

2 ...ترمذی، کتاب:المناقب عن رسول الله، باب:مناقب معاويه، صفحه:866، حديث:3846۔

بلکه ❁ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو شان دا دے چې اسمان طرف ته نظر اوچت کړي نو اللّٰه پاك قبله بدلوي، اللّٰه پاك په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| قَدۡ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجۡهِكَ فِى السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبۡلَةً تَرۡضٰهَا ۪ (پارہ:2،سورۂ بقرۃ:144) | [مفهوم] ترجمۂ کَنزُالعِرفان: مونږه ستا بيا بيا آسمان طرف ته مخ اوچتول وينو نو ضرور مونږ به تا د هغې قبلے طرف ته تاؤ کړو په کومه کښې چې ستا خوشحالي ده. |

اَللّٰهُ اَکۡبَرۡ! حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لمُونځ ادا کولو، په هُم دې حالت کښې ئې آسمان طرف ته نظر اوچت کړو، اللّٰه پاك اوفرمائيل: اے محبوبه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږه ستاسو اسمان طرف ته نظر اوچتول وينو، تاسو هُم هغه قبلے طرف ته مخ کړئ! په کومه قبله چې تاسو راضي ئې.

خُدا کی رضا چاہتے ہیں دو عالَم | خُدا چاہتا ہے رضائے محمد (1)

د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو دا شان دے ❁ چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم گوته اوچته کړي نو سپوږمئ دوه ټکړے شي ❁ نبـي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې اشاره اوکړي نو ډوب شوے لمَر بيرته راوګرځوي ❁ غور اوکړئ! هغه اللّٰه پاك کوم چې د خپل محبوب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اشارو داسې قدر کوي نو اللّٰه پاك به د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُعاګانو څومره قدر کوي...!

---

1 ...حدائق بخشش، صفحه:65۔

## د هدايت په مُعامَله کښې د خلقو درې قسمونه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** معلومه شوه چې د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُعاګانې د **اللّٰه پاك** په بارګاه کښې قبليږي، اوګورئ! خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت امير مُعاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ په حق کښې څومره ښائسته دُعا کړې ده: **اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِياً**[1] اے **اللّٰه پاکه**! مُعاوِيه هادِي او مَهدي جوړ کړې (يعني دا پخپله هم هدايت يافته جوړ کړې او نورو ته ئې هدايت ورکوونکے هُم جوړ کړې).

عُلمائے کرام فرمائي: د خلقو درې قسمونه دي: **(1)** څه خلق داسې دي چې پخپله په هدايت دي خو نورو ته هدايت نه ورکوي، څومره داسې پټ ځان ساتونکي بندګان دي چې هغوئي ځان د خلقو نه لرې کړے دے، په غارونو کښې عبادت کوي، دا پخپله په هدايت دي خو نورو ته هدايت نه ورکوي **(2)** څه خلق داسې دي چې نورو ته هدايت ورکوي، د نيکئ دعوت ورکوي، بيان کوي، درس کوي، ښې ښې خبرې کوي خو پخپله په هدايت نه وي او ګناه کوي **(3)** دريم قِسم خلق هغه دي چې پخپله هُم په هدايت دي او نورو ته هم هدايت ورکوي. دا د ټولو نه افضل دي، خوږ آقا مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د پاره دا دُعا کړې وه چې يا **اللّٰه پاکه**! مُعاويه د ټولو نه په افضله درجه کښې اوساتې! دوئي پخپله هدايت موندونکے او نورو ته هم هدايت ورکوونکے جوړ کړې.[2]

---

1 ...ترمذی، کتاب:المناقب عن رسول الله، باب:مناقب معاویه، صفحه:866، حدیث:3846۔

2 ...فضائل معاویه، فصل: فی فضائله ومناقبه، صفحه:72ماخوذاً۔

# د هادي او هدايت يافته فضائل

خورو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ ته دا خو معلومه شوه چې كوم بنده هدايت يافته هم وي، نورور ته هدايت هم وركوي، هغه د دې دوو قِسمو خلقو نه افضل دے خو د هغه بنده خپله درجه څه ده؟ راځئ چې دا خبره د حُضُورِ غوثِ پاك، شيخ عبدُالقادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه زده كړو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ❁ دا كس (كوم چې پخپله په هدايت وي او نورو ته د هدايت لاره ښائي، دا) د الله معرفت لرونكے دے ❁ دا هغه كس دے چې الله پاك د خپلو آيتونو (يعني نښو) عالِم جوړ كړے دے ❁ د ده په زړه كښې د ډيرو قيمتي خبرو علم ايښودے شوے دے ❁ دا خوښ بنده دے ❁ دا مقبول [بنده] دے ❁ الله پاك ده ته هدايت عطا كړے دے ❁ الله پاك ده ته په خپل قُرب كښې ترقي عطا كړي ده ❁ د عِلم د پاره ئې د ده سينه پرانستې ده ❁ دا ئې د نيكئ دعوت وركولو والا ❁ د عذابونو نه ويرولو والا جوړ كړے دے ❁ دا د انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام رښتينے نائب دے.[1]

اے عاشِقانِ رسول! غور اوكړئ! رَسُولِ اكرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په حق كښې په يو څو الفاظو كښې دُعا اوكړه او په دې يو څو الفاظو كښې ئې د هغوئي د پاره څنګه څنګه فضائل اوغوښتل...! سُبْحٰنَ اللّٰه!

1 ...شرح فُتُوح الغيب، صفحه: 353۔

# د خوږ آقا ﷺ د دُعا مُتَعَلِّق د ايمان نه ډکه نُکته

**اے عاشِقانِ رسول!** د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دُعا مُتَعَلِّق يوه بله د اِيمان نه ډکه نکته عَلَّامه اِبنِ حَجر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه بيان کړي ده، راځئ چې په دې نکته باندې ځان په اسان انداز کښې پوهه کړو. د چا په ذِهن کښې به دا سوال راځي چې خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ په حق کښې دا دُعا ولے اوکړه؟ بله يوه دُعا ئې ولے اونکړه؟ د حضرت عبدُالله بِن عبَّاس رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ په حق کښې هم حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا کړې وه: **اَللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ** اِلٰـهــي! عبدُالله بِن عبَّاس ته د قرآنِ کريم علم عطا کړې. دغه شان خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نورو صحابهٔ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان په حق کښې هم مختلفې دُعاګانې کړې دي، آخر د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ مُتَعَلِّق ئې دا دُعا ولے اوکړه چې اِلٰـهــي! مُعاويه هدايت يافته او نورو ته هدايت ورکوونکے جوړ کړې.

د دې سُوال جواب عَلَّامه اِبنِ حَجر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ورکړے دے، څه ښکلې د کمال خبره ده! فرمائي: داسې دُعا کومه چې په دُنيا او آخرت کښې اوچته مرتبه ورکوي، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې دُعا صرف د هغه کس د پاره کوي د چا مُتَعَلِّق چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته معلومه وي چې دا بنده د دې مرتبو اهل دے او د دې مرتبو صلاحيت هم لري.[1]

1 …فضائل معاويه، فصل: في فضائله ومناقبه، صفحه:72ماخوذاً۔

مطلب دا دے چې **الله** پاك خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا شان عطا کړے دے چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف ظاهر ته نه ګوري بلکه په باطن هم نظر ساتي، حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخامخ کس د قابليت مطابق دُعا کوي، د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په باره کښې هم چې کله خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه نو يقيناً هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل يقيني علم په ذريعه د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ قابليت پيژندلو چې هغوئي د هادي او مَهدي دواړو جوړيدلو صلاحيت لري، لِهٰذا خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه: **اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًا** (يا اِلٰهي! مُعاوِيه هدايت ورکولو والا او هدايت يافته هم جوړ کړې).

ګويا دا دُعا صرف دُعا نه ده، په يو اعتبار سره د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ په باره کښې د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تَاَثُّرات هم دي چې د حُضُورِ اکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظر مبارك کښې حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د دې خبرې اهل وو چې هغوئي هدايت يافته هم جوړيدے شي او هدايت ورکولو والا هم جوړيدے شي.

لږ غور اوکړئ! زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د کوم شخصيت مُتَعَلِّق دا تَاَثُّرات وي چې هغوئي د هدايت يافته جوړيدو او هدايت ورکولو والا جوړيدو هم صلاحيت لري نو اووائې! مونږ غلامانو له د هغه شخصيت مُتَعَلِّق څه نظريه ساتل پکار ده؟ يقيناً مونږ له دا نظريه جوړول پکار ده د کومې چې مونږه نعرے لګوو:

| | | | |
|---|---|---|---|
| مخلص و باوَفَا! | حضرت معاویہ | باعَمَل بےریا | حضرت معاویہ |
| جنّتی بےشُبہ! | حضرت معاویہ | باخُدا باصفا! | حضرت معاویہ |

# د اَمير مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دوه اعلیٰ اوصاف

يو اوګرېد حديثِ پاك دے چې په هغې کښې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابۂ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوان خاص اوصاف بيان کړي دي، په دغه حديثِ پاك کښې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دوه خاص اوصاف بيان کړي دي، فرمائي: **وَمُعَاوِيَةُ بْنُ اَبِي سُفْيَان اَحْلَمُ اُمَّتِي وَاَجْوَدُهَا** او مُعاويه بِن ابي سُفيان زما په اُمَّت کښې د ټولو نه زيات حلم والا او ډير سخي دے.[1]

**اے عاشِقانِ رسول!** دا هم ډير اِيمان افروز حديثِ پاك دے، خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ظاهره د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دوه اوصاف بيان کړي دي خو په حقيقت کښې دا صرف دوه اوصاف نه دي بلکه د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د اوصافو ګويا پوره کتاب دے. علمائے کرام فرمائي: د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په دې دوو اوصافو **حِلم** او **کمال سخاوت** غور اوکړئ! په کوم بنده کښې چې دا دواړه اوصاف [يعني حِلم او کمال سخاوت] پيدا شي هغه د ټولو باطني مرضونو نه پاك شي.

عَلَّامه اِبنِ حَجر **هَيتَمِی** رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: د کوم بنده په زړه کښې چې د ذرے برابر هم تکبُّر وي، هغه هيڅ کله حِلم والا نه شي کيدے (ځکه چې هغه له په غُصَّه باندې قابو حاصلول ګران وي او څوک چې په غُصَّه باندې قابو نه شي ساتلے، هغه حِلم والا نه شي کيدے، لِهٰذا کوم بنده چې د تَکَبُّر نه بالکل پاك شي) او د غُصَّے د آفتونو نه بچ شي

---

[1] ...بغية الباحث، كتاب: المناقب، باب: فيما اشترک فيه، جلد: 1، صفحه: 893، حديث: 965۔

نو هغه د ټولو باطني خباثتونو نه بچ پاتې کيدے شي او څوک چې د باطني خباثتونو نه بچ شي، هغه بيا هر قِسمه نيکئ حاصلولو کښې کاميابيږي.

دغه شان د کمال سخاوت مُتَعَلِّق غور اوکړئ! خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ د دُنيا محبت د هرې بدئ جرړه ده. معلومه شوه چې اللّٰه پاك کوم بنده د دُنيا د محبت نه بچ کړي او هغه ته د سخاوت نِعمَت عطا کړي، دا د دې خبرې علامت دے چې د هغه بنده په زړه کښې د ذرے همره حَسَد هُم نشته او د دې فانـي دُنيا طلب هم نه لري بلکه ظاهري او باطني طور د نيکو طرف ته تَوَجُّه ساتي.[1]

اوګورئ! آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: وَمُعَاوِيَةُ بْنُ اَبِي سُفْيَان اَحْلَمُ اُمَّتِي وَاَجْوَدُهَا او مُعاويه بِن ابي سُفيان زما په اُمَّت کښې د ټولو نه زيات حِلم والا او ډير سخي دے. د دې نه معلومه شوه چې ❁ حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ په غُصَّه باندې مکمل قابو لري ❁ هغوئي د تَکَبُّر نه پاك دے ❁ هغوئي د دُنيا د محبت نه بالکل جدا دے ❁ بس د آخرت طلب ګار دے ❁ هغوئي د حَسَد او ټولو باطنـي بيمارو نه بالکل پاك دے ❁ او د ټولو صفاتو جامع دے [يعني ټول صفتونه پکښې جمع دي].

---

1 ...فضائل معاويه، فصل: فى فضائله ومناقبه، صفحه:7473 خلاصةً۔

# حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ او محبتِ اَهلِ بَيت

## د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د اِمام حَسَن رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره محبت

حضرت اِبْنِ بُرَيْدَه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: يو ځل اِمام حَسَن مُجتَبٰـى رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ خوا ته تشريف راوړو، حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اِمام حَسَن مُجتَبٰـى رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته اوفرمائيل: نن به زه ستاسو په خدمت کښې هغه نذرانه پيش کووم چې کله به هم چا بل کس ته نه وي پيش کړي. بيا ورته حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ څلور لکه درهمه پيش کړل.[1]

مشهور مُفسّرِ قرآن، حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ نقل کوي: يو ځل حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د اِمام حَسَن مُجتَبٰـى رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په خدمت کښې څلويښت کروړه درهمه بطورِ نذرانه پيش کړل. چې کله به اِمام حَسَن مُجتَبٰـى رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ خوا ته تشريف راوړلو نو حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ به هغوئي په خپل ځائے کښينولو او پخپله به ورته لاس په نامه اودريدلو، چا ترينه تپوس اوکړو: تاسو داسې ولے کوئ؟ هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ اُوفرمائيل: اِمام حَسَن مُجتَبٰـى رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم شکل دے، زه د دې مُشابَهَت احترام کووم.[2]

---

[1] ...سير اعلام النبلاء، معاويه بن ابي سفيان، جلد:4، صفحه:309۔

[2] ...مرآۃ المناجيح، جلد:8، صفحه:461۔

## د حَسنَينِ كَرِيمَينو د استقبال مبارك انداز

حضرت محمد بِن يعقوب رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به چې كله د اِمام حَسَن مُجتَبٰـى يا اِمام حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنْہُما سره ملاقات كولو نو د استقبال كولو سره به ئې فرمائيل: مَرْحَباًوَّاَھْلاً بِاِبْنِ رَسُوْلِ اللّٰہ يعني هر كله راشئ! هر كله راشئ! اے د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شهزاده...!

## وصالِ اَمير مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! جَنَّتـي صحابـي حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ 78 كاله په دې دُنيا كښې تشريف فرما وو، آخر په 60 هجرئ كښې د رَجَبُ الْمُرَجَّب په مياشت كښې د پنجشنبے [يعني د زيارت] په ورځ د دې دُنيا نه ابدي ژوند ته رُخصَت شو. د هغوئي مزار مبارك په دِمشق كښې د بابُ الصَّغِير خوا ته دے، د هغوئي د مزار مبارك خواوشا يو عالي شان عمارت جوړ كړے شوے دے، د هر كل او زيارت په ورځ مزار مبارك بيرته كيږي او عام و خاص خلق د مزار مبارك د زيارت كولو سعادت حاصلوي.[1]

---

1 ...فيضانِ امير معاويه، صفحه:246۔

## د وصالِ اَمیر مُعاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اِيمان افروز كيفيتونه

په رواياتو كښې دي: د وصال مبارك نه مخكښې حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اوفرمائيل: ما كښينوئ! هغوئي كښينولے شو، بيا هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د اللّٰه پاك ذِكر او تسبيح شروع كړو.[1]

په رواياتو كښې دي چې حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سره د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قميص مبارك، كټ شوي نوكان مبارك او مقدس ويښته مبارك وو، د خپل ځنكدن په وخت كښې حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وصيت اوكړو چې كله زه وفات شم نو د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قميص مبارك به زما د بدن سره پيوست كړئ او نوكان مبارك زما په سترګو او ويښته مبارک زما په خُله او پوزه كيږدئ، ممكنه ده چې د دې تبركاتو په بركت به اللّٰه پاك په ما رحم اوكړي.[2]

تبرکاتِ مصطفےٰ لحد کے واسطے چُنے | عقیدے کا چراغ ہے وصیتِ معاویہ

## آخري وخت كښې ئې د كور خلقو ته د نيكئ دعوت وركړو

آخري وخت حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د خپل كور خلقو ته د نيكئ دعوت وركولو كښې اوفرمائيل: د اللّٰه پاك نه هميشه ويريږئ، ځكه چې څوك د اللّٰه پاك نه ويريږي، اللّٰه پاك هغه په خپل امان كښې ساتي او د اللّٰه پاك نه نه ويريدونكو د پاره د

---

1 ...لباب الاحياء، باب:الاربعون فی ذکر الموت، فصل:فی کلام المحتضرین، صفحه:352۔

2 ...تاریخ طبری، ثم دخلت سنة ستین، ذکر الخبر عن مدة ملکه، جلد:3، صفحه:262۔

پناه هيڅ ځائے نشته. د هُم دې نيکئ دعوت ورکولو سره حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ آخرت طرف ته تشريف يوړلو.[1]

## صحابۀ كرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان په خپل مينځ كښې وروڼړه وروڼړه دي

اے عاشِقانِ رسول! يو ځل د حضرت اَمِيرِ مُعاويه او حضرت مولا علي شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡهُمَا په مينځ كښې څه اختلاف راغلو خو دا اِختلاف څه د دُنياوي لالچ په وجه نه وو، دا خالص په يوه ديني مُعامَله كښې اختلاف وو. بےعقله خلق د دې دواړو جنتي صحابۀ كرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡهُمَا په مينځ كښې ديني اختلاف بنياد جوړوي او د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ سخته ګستاخي كوي او بعضې داسې بےعقله خلق هم شته چې حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ ته ردې بدي وائي. په دې تَعَلُّق سره هميشه دا خبره ياده ساتئ! چې د بُزُرګانو په خبرو بُزُرګان په خپل مينځ كښې ښه پوهيږي، صحابۀ كرام د اُمَّت د ټولو نه د اوچتې درجے خلق دي، بس په مونږه دا حق لازِم دے چې مونږه د ټولو صحابۀ كرامو صرف ادب، ادب او ادب اوكړو- پاتې شوه د صحابۀ كرامو بعضې د خپل مينځ او خالص ديني اختلافات نو د هغوئي په مينځ كښې د فيصله كولو حق مونږ ته نشته او نه مونږ ته دا ذمه واري راكړے شوې ده.

هسې هُم ټول صحابۀ كرام عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان په خپل مينځ كښې محبت كوونكي او وروڼړه وروڼړه دي، د هغوئي كله هم د دُنياوي لالچ په وجه په خپل مينځ كښې اختلاف نه دے راغلے. اللّٰہ پاك په قرآنِ كريم كښې د صحابۀ كرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان په شان كښې فرمائي:

---

[1] …تاریخ طبری، ثم دخلت سنة ستين، ذكر الخبر عن مدة ملكه، جلد:3، صفحه:263۔

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِؕ وَ الَّذِیْنَ مَعَهٗۤ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ (پارہ:26،سورۂ فتح:29)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُالایمان: مُحَمَّد د الله رسول دے او د هغوئي ملګري په کافِرو باندې سخت دي او په خپل مينځ کښې نرم زړه والا دي.

اِمام جلالُ الدّين سُيُوطِـي شافِعِـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د "رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ" معنٰى بيانوي، فرمائي: مطلب دا دے چې صحابۀ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوان په خپل مينځ کښې داسې محبت ساتي څنګه چې پلار د خپل ځوئ سره [محبت] کوي.[1] معلومه شوه چې صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان په خپل مينځ کښې هيڅ خفګان نه ساتلو.

پاتې شوه د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ او د حضرت مولا علـي شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په خپل مينځ کښې د اختلاف خبره! نو د دې فيصله پخپله زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلې ده.

## مُعاوِيه او علـي ...! جَنَّتـي جَنَّتـي

د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تره مبارک ځوئ سُلْطَانُ الْمُفَسِّرِين حضرت عبدُالله بِن عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما فرمائي: يوه ورځ زه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر ووم، حضرت ابُوبکـر صِدِّيق، حضرت عُمَر فاروقِ اعظَم، عُثمانِ غنـي او اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم هم موجود وو، حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هم راغلو، په دغه وخت کښې د غيبو خبر ورکوونکـي نبـي، رسُولِ هاشِمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:

---

1 …حَاشِيَةُ الصَّاوِی عَلٰی تَفسِيرِ الجَلالين، پارہ:26، سورۂ فتح، تحت الآية:29، جلد:3، صفحه:319۔

مُعاويه! آيا ته د علـي سره محبت کوے؟ عرض ئې اوکړو: په هغه ذات مې دِ قَسَم وي د چا نه سِوا چې بل څوك د عبادت لائق نشته! زه د **الله** پاك د رضا د پاره د علـي سره محبت کووم. خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: نزدې ده چې ستاسو دواړو په مينځ کښې به څه ازميښت راځي. حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ عرض اوکړو: د هغې نه پس به څه کيږي (يعني په خپل مينځ کښې د ازميښت به څه نتيجه را اوځي)؟ خوږ مهربان آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **د هغې نه پس به د الله پاك له طرفه مُعافـي، د الله پاك رِضا حاصليدل او جَنَّت ته داخليدل وي.**[1]

**اے عاشِقانِ رسول**! تاسو اوليدل! د حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنْهُ او د حضرت اَمِيرِ مُعاويه رَضِیَ اللہُ عَنْهُ په خپل مينځ کښې د هٰغه خالصو دِيني اختلافاتو فيصله ﷺنبـي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي وه، نو زمونږه شان خلقو څه جرأت چې مونږه د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان په مينځ کښې واقع شوو مُعامَلاتو باندې بحث کول شروع کړو. مونږ ته د صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان د ادب کولو حکم راکړے شوے دے او مونږ به صرف او صرف ادب کوو او بس!

**الله پاك** دِ مونږ ټول د صحابه او اهلِ بيتِ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان با ادبه جوړ کړې، او د صحابه او اَهلِ بيتِ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان ډير محبت دِ را نصيب کړي. **اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1 ...تاريخ ابن عساكر، جلد:59، صفحه:140139۔

## 12 ديني کارونو کښې يو دِيني کار: مَدَني قَافِله

اے **عاشقانِ رَسُول!** د عشقِ رسول حاصلولو، د صحابه او اهلِ بيتِ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان مَحبَّت زياتولو د پاره د عاشقانِ رَسُول ديني تحريك دعوتِ اسلامي سره خپل تَعَلُّق جوړ کړئ او د ذِيلي حلقے 12 ديني کارونو کښې د زړه په اِخلاص حِصَّه واخلئ! د دې په بَرَکت به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الکريم بيشميره برکتونه درنصيب شي. د ذِيلي حلقے 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **مَدَني قافِله** ده. راځئ چې د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے واورو:

## د نشے بد عادت ئې لرې شو

د جيکب آباد سندھ د يو اِسلامي ورور بيان څه داسې دے چې زه مخکښې د غلطو عقيدو لرونکو خلقو سره ناسته پاسته کښې او اخلاقي ګناهونو کښې اخته ووم، هره ورځ به مې نشه کوله او بيا به د نشے په حالت کښې کور ته راغلم او بيا به مسلسل اوده پروت ووم. زما مور به چې زما دا حالت اوليدو نو ژړل به ئې او زه به ئې پوهه کولم خو په ما باندې به څه اثر نه کيدلو. غالباً د 2010ء خبره ده، زما ملاقات د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول سره وابسته يو اسلامي ورور سره اوشو، هغوئي زه پوهه کړم او ما ته ئې په مدني قافِله کښې د سفر کولو ترغيب راکړو، دغسې ما ته په خپل ژوند کښې ورومبي ځل په مدني قافِله کښې د سفر کولو سعادت نصيب شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د

مدني قافلے په برکت ما ډير څه زده کړل، او ما ته د بدعقيدګئ او د نشے د بد عادت نه د توبه کولو توفيق هم رانصيب شو.[1]

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي."[2]

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د نوکانو کټ کولو سُنَّتونه او آداب

**دوه فرامينِ مصطفٰی** صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **(1)** څوك چې د **جُمُعے** په ورځ نُوکان پريك کړي **اللّٰه پاك** به هغه د بلې **جُمُعے** پورې د مصيبتونو نه محفوظه ساتي او درې ورځې زياتې[3] يعني د لسو ورځو پورې. **(2)** څوك چې د **جُمُعے** په ورځ نُوکان پريك کړي نو **اللّٰه پاك** به د هغه نه بيمارئ لرې کړي او شِفا به ورداخله کړي.[4]

**اے عاشِقانِ رسول!** ❁ د **جُمُعے** په ورځ نُوکان پريك کول مستحب دي. که زيات غټ شوي وي نو د **جُمُعے** انتِظار مه کوئ. ❁ په روايت کښې د لاسونو د نُوکانو پريك کولو

[1] ...بد شگونی، صفحه:112۔

[2] ...ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳

3...مرقاۃ المفاتیح، کتاب: اللباس، باب: الترجل، تحت الحدیث:4422، جلد:8، صفحه:212۔

4...مصنف ابن ابی شیبه، کتاب الجمعة، جلد:2، صفحه:65، حدیث:2۔

منقول طريقه وړاندې كيږي [واورئ]: مخكښې د ښي لاس د شهادت د ګوتې نه شروع اوكړئ او ترتيب وار ئې د كچۍ ګوتې د نُوك سره پريك كړئ خو غټه ګوته پريږدئ. بيا د ګڅ لاس د كچۍ ګوتې نه شروع اوكړئ او ترتيب وار ئې د غټې ګوتې د نُوك سره پريك كړئ، بيا په آخره كښې د ښي لاس د غټې ګوتې نُوك پريك كړئ.[1] ❁ د ښپو د نوكانو پريك كولو څه ترتيب منقول نه دے، بهتره دا ده چه د ښئ ښپې د كچۍ ګوتې نه ئې شروع كوئ او ترتيب وار ئې د غټې ګوتې د نُوكه پورې پريك كوئ، بيا د ګڅې ښپې د غټې ګوتې نه شروع كوئ او د كچۍ ګوتې د نُوكه پورې ئې پريك كوئ.[2] ❁ د جَنابَت په حالت (يعني د غسل فرض كيدلو په صورت) كښې نُوكان پريك كول مكروهِ (تنزيهي) دي.[3] ❁ په غاښونو نُوكان كټ كول مكروهِ (تنزيهي) دي او د دې په وجه د برص يعني برَګي مرض انديشه ده.[4] ❁ د نُوكانو كټ كولو نه پس هغه خخ كړئ او كه غوزار ئې كړئ نو هم څه باک نشته.[5] ❁ اوګرِده نوكان د شيطان د ناستې ځايونه دي يعني په دې باندې شيطان كښيني ❁ د ښپے نوكان كټ كولو كښې حرج نشته.[6]

1...دُرِّ مُختار و رَدُّالْمُحْتَار ج، ص، و اِحْيَاءُ الْعُلُوم ج، ص

2...دُرِّ مُختار ج، ص

3...عالَمگیری، ۳۵۸/۵

4...عالَمگیری، ۳۵۸/۵

5...عالَمگیری، ۳۵۸/۵

6...550 سنتیں اور آداب، صفحہ:5150۔

د سُنَّتنو زده کولو د پاره د بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخِ طريقَت، اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ عِلّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ د 91 صفحو کتاب "550 سُنّتیں اورآداب" واخلئ او اولولئ ئې.

اللّٰه پاک دِ مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي- اٰمِين بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ✿✿✿ صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَ تَرۡضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡہُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ یَوۡمَ الۡقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھۡلُہٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[3] راځئ

---

1...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

3...مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵